٦٧٥

هفته نامه

بجز اصلاح اراده دیگری ندارم سوره هود ۸۸

# ملی اصلاح

سیاسي، ټولنیزه او فرهنګي اوونیزه

۱۸مه ګڼه، د ۱۳۹٦ لمریز کال د اسد ۱۴مه د ۱۴۳۸ هـ ق ذوالقعدې ۱۳مه د ۲۰۱۷م د اګست ۵مه

## کابل بنار

## له شوکمارو پاک کړئ

## پنځم ستون (کتار)

## د هېوادونو وېجاړوونکي داخلي پټ خاینان

# از نگرانیها

## تا احتمال اقدام نظامی روسیه در افغانستان

# متعصب نه باشید!

عَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، قَالَ : « لَيْسَ مِنَّا مَنْ دَعَا إِلَى عَصَبِيَّةٍ ، وَلَيْسَ مِنَّا مَنْ قَاتَلَ عَلَى عَصَبِيَّةٍ ، وَلَيْسَ مِنَّا مَنْ مَاتَ عَلَى عَصَبِيَّةٍ » [رواه ابو داؤد]

ترجمه: از جمله‌ی مانیست (یعنی از پیروان من آن شخص نمی باشد) کسیکه دعوت میکند بسوی عصبیت (تعصبات قومی و لسانی )، از جمله‌ی مانیست کسی که می جنگد بخاطر عصبیت و از جمله‌ی مانیست شخصی که در راه تعصب بمیرد.

تعصب نژادی، لسانی، قومی و ملیتی در اسلام یک عملی است مردود، و حتی عامل آن را پیشوای این امت از دایره اسلام بیرون رانده است و این عمل را منتن و بد بو خوانده است.

خدای متعال ما را به وحدت و یکپارچگی امر نموده و از تفرقه بر حذر داشته است، پس اگر ما بندگان خدای متعال هستیم باید به فرامین او تعالی عمل کنیم؛ (وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا) آل عمران ۱۰۳

بلی معنی این حدیث پیامر صلی الله علیه وسلم؛ (مثل المؤمنون فی توادهم و تراحمهم کمثل الجسد الواحد إذا اشتکی منه عضو تداعی له سائر الجسد باالحمی و السحر)

مثال مومنان در مرحمت و دوستی به یک جسد واحد می ماند که اگر عضوی را دردی رسد، سائر اعضای بدن به بیداری و تب شب را زنده میکند.

برای یک انسان سلیم الفطرت قوم و قبیله، منطقه و ولایت و کشور و حتی جهان کوچکی میکند، روح متعالی انسان سالم در قالب و قفس تن و زمین و آسمان و جهان نمی گنجد و این قیودات محدود را می شکند و یک انسان دوجهانی میشود، که نمونه های آنرا ما در تاریخ خود داریم، مگر سید جمال الدین کی بود که اقدام به ایجاد وابستگی و اتحاد میان مسلمانان شرق و غرب میکوشید مگر من و تو از این عمل او شرمنده ایم که رد پایش تعقیب نمی کنیم و خود را به یک قوم کوچک و به مرز و بوم محدود و در یک قفس میگنجانیم یا واقعاً ما به همین مقدار کوچک و خورد هستیم!؟

اما متأسفانه که امروز دشمنان این دین به گونه یی از این اصل پیروی میکنند و بر خود ما حکومت روایی می کنند؛ اما این راز موفقیت را پشت سر انداخته ایم؛ راستی است که (وَلَا تَنَازَعُوا فَتَفْشَلُوا وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ) اگر ما امروز میان خود تنازع داریم و به همان سه گاوی می مانیم که در فتنه نفاق گرفتار شدند و به چنگال گرگ افتیدند؛ ما نیز به چنگال گرگی افتاده ایم و یکی پی دیگر باید شکار و طعمه دشمن شویم، و تعجب است که ما خود به این فتنه راضی باشیم و به این فلاکت تن دهیم و بازوی دشمن را قوت و شمشیر نفرت بر فرق برادر خود بزنیم.

بلی این روباه مکار میخواهد که آهسته آهسته همین قاعده (فرق و احکم) تفرقه بیانداز و حکومت کن را بر ما قدم به قدم تطبیق کند.

پیامبر بزرگوار ما را از آن بر حذر نموده بود (لا ترجعوا بعدی کفاراً یضرب بعضکم رقاب بعض) خبردار که بعد از من کافر نشوید که یکی گردن دیگر خود را بزنید!

مگر ما به این نشرات و تبلیغات فتنه انگیز تخدیر شده ایم، کجاست جوانمردان هوشمند ما که ما را ازین منجلاب هلاکت نجات دهد و قبل ازینکه درین غرقاب هلاک شویم دست ما بگیرند و نگذارند که ما خود کربلای تازه برپاکنیم!!!

## اصلاح ملی را از اینجا بدست آورید:

**کابل:** تایمنی، چهارراهی حاجی محمد داد، سرک ۴، دفترمرکزی جمعیت اصلاح . موبایل: ۰۷۸۰۷۴۱۳۱۲

**کابل:** کوته سنگی، سرک سیلو، بلاک های شاداب ظفر، انتشارات اصلاح افکار. موبایل: ۰۷۷۸۱۹۱۳۸۲

**کابل:** شهرنو، چهارراهی انصاری، کتاب فروشی رسالت. تیلفون : ۰۴۰۲۲۰۳۳۵۹

**کابل:** انتشارات مستقبل مقابل بلاک های شاداب ظفر

**کابل:** کمپیوتر فروشی اکاموي جاده نادر بشتون، مارکت الله نظر، منزل ۲ دوکان ۲۳ ، موبایل ۰۷۹۹۳۹۰۸۱۹

**کابل:** ده افغانان، کتاب فروشی بیهقی

**کابل:** انتشارات بنیاد علمی و فرهنگی مسجد جامع پل خشتی موبایلها: ۰۷۹۹۰۱۱۱۱۱ / ۰۷۵۲۲۲۲۲۲۲

**ننگرهار:** جلال آباد، چهل متره سړک، د سید اکرام دوکانونه، د ماشومانو زوړ مسجس ته څېرمه د جمعیت اصلاح ساحوي دفتر. ټیلفون: ۰۷۰۰۶۳۲۴۸۰

**ننگرهار:** جلال آباد: اسحاقزی مارکیټ، لاندې منزل، اصلاح افکار. ټیلیفون: ۰۷۹۳۷۷۸۸۸۱

**کندهار:** نوی بنار، د هرات سړک، د سړې جامع غرب طرف ته سورې مېنه د امام ابوحنیفه (رح) تعلیمي او کلتوري مرکز د جمعیت اصلاح ساحوي دفتر. ټیلفون: ۰۷۰۵۲۳۰۵۸۳

**لغمان:** مهترلام بنار، حمزه مارکیټ. ټیلیفون: ۰۷۷۵۶۷۶۰۹۹

**هرات:** سرک باغ آزادی، ابتدای جاده محبس ابن سینا۱ انجمن اخلاق و معرفت . موبایل:۰۷۸۹۰۰۸۱۵۲ - ۰۴۰۲۳۷۰۱۲

**بلخ:** گذر استالفی ها، عقب لیسهٔ خانه نور، دفترساحوی جمعیت اصلاح. موبایل: ۰۷۸۸۸۰۴۰۵۵

**کندز:** شهرکندز، جاده ولایت، کوچه حاجی میری، پوهنتون سلام. ۰۷۸۷۷۰۳۷۲۴

**بغلان:** پلخمری، مارکیت اتفاق کتاب و قرطاسیه فروشی رسالت موبایلها: ۰۷۷۷۴۷۶۴۶۹ / ۰۷۰۰۵۸۹۸۵۷

**لوگر:** محمد آغه، واغجان بازار، پهلوی کلینیک حسین خیل . موبایل: ۰۷۷۵۴۳۸۷۶

**لوگر:** مرکز ، مدینه مارکیت سرک مسجد جامع ، کتاب فروشی سادات،سید عبدالحمید هاشمی.موبایل: ۰۷۰۰۴۴۹۸۸۱

**پکتیا:** دگردیزبنار، مرکزی چوک ، دنې نمایندگی . وحیدالله:۰۷۷۹۲۱۳۸۲۲

**خوست :** افغان ټاور، شاته خوست مرکزي طبي لابراتوار دوهم پوړ د جمعیت اصلاح ساحوي دفتر ډاکټرمحمد گلاب:۰۷۹۹۱۷۴۵۴۶ / ۰۷۷۷۱۷۴۵۴۶

**تخار:** آموزشگاه علمی رسالت- واقع چهار راهی تیل فروشی- تیل فروشی سابقه. ۰۷۷۹۶۳۴۱۹۲

**بدخشان:** فیض آباد: ۰۷۰۷۸۳۱۳۶۴ / ۰۷۷۵۲۷۰۵۰۸

**زابل:** قلات، عمومی جاده، د تجارانو کوڅه د غوثي رهنمای معاملات ترخنگ، شمېره: ۰۷۷۳۵۸۰۲۰۹ / ۰۷۰۶۵۲۷۱۸۶

**فراه:** ناحیه سوم، مقابل مسجد جامع قاضی، مرکز علمی و فرهنگی توحید. موبایل: ۰۷۹۹۸۴۳۶۱۱

**نیمروز:** سرک ولایت ، نارسیده به قوماندانی امنیه، مرکز علوم قرآنی اعجاز، سید امیر قریشی: ۰۷۹۶۳۰۹۱۴۰

**قیمت یک شماره ۱۰ افغانی**

جمعیت اصلاح افغانستان

بخش فرهنگی و نشرات

هفته نامه اصلاح ملی اونیزه

داسلام داصیل فهم منبر

Email:eslahmilli@gmail.com

مدیر مسؤول

محمد شعیب قریشی

اعضای هیأت تحریر:

نقیب الله حمید
سردارمحمد دیندارخیل
رحیم الله حریفال
عزیزاحمد حنیف
وحید الله مصلح
عبدالوهاب هائد

شماره مسؤول توزیع: ۰۷۸۰۷۴۱۳۱۲

آدرس بانکی: جمعیت اصلاح و انکشاف اجتماعی افغانستان نوی کابل بانک
A/c No: 1001202080036 (Afghani)

آدرس بانکی: جمعیت اصلاح و انکشاف اجتماعی افغانستان نوی کابل بانک
A/c No: 1001201080036 (Dollar)

سرمقاله

# کابل ښار له شوکمارو پاک کړئ!

په دې وروستیو کې د هېواد په پلازمینه کابل کې یوځل بیا جنایي پېښې زیاتې شوي دي، سره له دې چې له تېرو څو کلونو راهیسې د کابل ښار امنیت که له یو لوري چاودونو او وسله‌والو بریدونو خراب کړی دی، له بل پلوه غله، شوکمار، انسان تښتونکي او جیب وهونکي هم د امنیت په خرابولو کې پوره ونډه لري او د پوښتنې ځای دادی چې له امنیتي پوستو او کمر بندونو سره خوا کې هره ورځ د غلا او شوکې پېښې تر سره کېږي او په معلومو ځایونو کې دا شوکمار په رڼا ورځ خپلې کړنې تر سره کوي، خو امنیتي ارګانونه یې په مخنیوي کې نا کام دي.

له مودې راهیسې د ښاري ټیکسي په پلمه له سورلیو پیسې لوټل کېږي، وهل کېږي او تر دې چې وژل کېږي. بلخوا د کابل ښار د ګڼې ګوڼې نه په ګټې سره اکثره د موټر له منځ نه قیمتي سامان غلا کېږي. د ښار په مختلفو ناحیو کې د ورځې او شپې له خوا کورونو ته غله ننوځي او هرڅه غلا کوي، خو سره له دې چې د ښار په هره سیمه کې امنیتي حوزې، د پولیسو پوستې او ګرځنده امنیتي کسان شتون لري، بیا هم ددې کارونو مخنیوی نه کېږي. دوې اونۍ وړاندې د اتمې امنیتي حوزې مربوط د کارته نو په سیمه کې په رڼا ورځ ځلور کسان ووژل شول او قاتلان په تښته بریالي شول، تر دې وړاندې د رحمان مینې په سیمې کې د علومو د اکاډمۍ پخوانی مرستیال له جومات نه د راوتلو په وخت کې وویشتل شو او دې ته ورته په لسګونو پېښې هره ورځ تکراربږي. د قلعه فتح‌الله پر سړک په رڼا ورځ د تورو ښیښو د دوو موټرو د سورلیو ترمنځ ډزې وشوې. خو امنیتي ارګانونه په دې اړه کوم د پام وړ ګام نه پورته کوي چې د دوی دا ناغبړې د پاملرنې وړ ده.

په دې کې شک نه شته چې د حکومت کمزورتیا، اداري فساد او پر دندندو د مفسدو کسانو ګمارنې دې بې امنیتیو ته لاره هواره کړې‌ده، او ډېرې امنیتي کارکونکي د غلو او شوکمارو له ډلو سره اړیکې لري، چې ښلګې یې وخت تر وخت تر سترګو کېږي.

د حکومتونو مسؤولیت د خلکو د مال، ځان، عزت او کرامت ساتنه ده، خو په خواشینۍ سره باید وویل شي چې زمونږ اکثره چارواکي په خپله غاصبین، غله او لوټمار دي او د خپلو ګټو د خوندې ساتلو لپاره په خوا کې غله او وژونکي ساتي او اکثره دا کسان بیا له دولتي موټرو نه په ګټې سره غلا او وژنې کوي.

سره له دې چې زمونږ په هېواد کې د لسګونو هېوادونو پوځیان میشت دي، په بیلیونونو ډالر دې هېواد ته راغلل، له امریکا سره امنیتي ټرون د سرو او شنو باغونو په ښکاره کولو سره لاسلیک شو، خو له دې هر څه سره ملي وحدت حکومت یوازې د کابل ښار امنیت هم خوندي نه کړ او په دې ښار کې یې د امنیتي پېښو مخه ونه شوای نیولای، د هېواد د لرې پرتو سیمو امنیت ساتل خو حکومت هسې هم خپله دنده نه ګڼي.

حکومت باید دې مسائلو ته جدي پاملرنه وکړي او د کابل امنیت ساتل دومره ګران کار هم نه دی او نه دا داسې لوی او ګڼ ښار دی چې مافیایي ډلې دې په آسانۍ سره دلته فعالیت وکړي، که په رښتیا امنیتي ارګانونه وغواړي چې کابل ښار له شوکمارو او غلو پاک کړي او په دې لاره کې له واسطي او رشوت نه ډډه وکړي، نو شونې ده چې په څو اونیو کې د کابل ښاریان د آرام ساه واخلي او په خپلو کورنو کې ډاډه ژوند وکړي. سره بېره پر دې د جنایي جرمونو مخنیوی د هېواد په کچه د جګړې په کمښت کې ستر رول لوبولای شي.

# له منځنۍ آسیا سره د اړیکو پراختیا د افغانانو په ګټه ده!

اصلاح رسنیز ګروپ/ نعمت الله عزیزي

افغانستان چې د آسیا زړه بلل کېږي او دغه له ارزښت څخه ډک موقعیت یې هم ډېر کله د ستونزو لامل ګرځیدلای او د بېلابېلو دورو د یرغلګرو پام یې ځان ته اړولی دی؛ خو له دې ټولو سره سره د سېمې لپاره خورا ارزښت لري او د منځنۍ او سویلي آسیا تر منځ د راکړې ورکړې د پل حیثیت هم لري.

د منځنۍ آسیا هېوادونه چې تر ډېره د روسیې تر مستقیم او غیر مستقیم اغېز لاندې دي، د طبیعي زیرمو درلودلو او د بریښنا د انرژۍ د تولید ډېره وړتیا لري. له بلې خوا ځینې دا هېوادونه د افغانستان په ډول په وچه کې راګیر دی چې د سوداګرۍ لپاره د زمکې له لارې آسانه او نږدې لارې ته اړتیا لري، تر څو د خپلو اړتیاوو د پوره کولو تر څنګ خپله انرژۍ هم صادره کړي، چې د دې موخې لپاره له سویلي آسیا سره د اړیکو زیاتیدو په موخه افغانستان تر ټولو نږدې او یوازینۍ لاره ده.

په وروستیو کلونو کې په ځانګړې ډول د ملي یووالي حکومت په رامنځته کېدو سره په سېمه کې د اقتصادي اړیکو د زیاتیدو هڅې پراخه شوې دي او موخه دا ښودل کېږي چې افغانستان باید د منځنۍ او سویلي آسیا تر منځ د اقتصادي دهلیز حیثیت خپل کړي.

له سیاسي اړخه هم افغانستان د منځنۍ آسیا هېوادونو ته ارزښت لري؛ ځکه دا هېوادونه ویره لري چې په افغانستان کې د جګړې دوام کېدای شي دا هېوادونه هم نا امنه کړي، له بل لوري د نشه‌یي توکو قاچاق هم د منځنۍ آسیا هېوادونه ګواښي.

په وروستیو ورځو کې د منځنۍ آسیا د ځینو هېوادونو (قزاقستان، ازبکستان او تاجکستان) له چارواکو سره د افغان چارواکو لیدنې کتنې او په ټوله کې د افغانستان او منځنۍ آسیا هېوادونو تر منځ د اړیکو زیاتیدل او پراخیدل څومره ارزښت لري؟ آیا د دې اړیکو پراختیا به په سېمه او افغانستان کې د امریکا او روسیې تر منځ رقابتونه او سیالي لا ډېرې نه کړي؟ او بالاخره افغانستان تر کومه کولای شي د اړیکو له پراختیا څخه سمه ګټه پورته او د ختیځ او لوډیځ په سیالیو کې خپلې ګټې هم خوندي کړي؟ د همدې او ځینو نورو پوښتنو د ځوابیدو په موخه تر پایله د لوستلو بلنه درکوو.

**له منځنۍ آسیا سره د اړیکو زیاتیدو ارزښت!**

د علومو اکاډمۍ د سېمه‌ییزو څېړنو مرکز مشر رفیع الله نیازی وایي: د منځنۍ آسیا هېوادونه چې ځینې یې د افغانستان ګاونډي هم دي د افغانستان لپاره په بېلابېلو (ټرانزیټ او سوداګرۍ) برخو کې ارزښت لري، ځکه په تېر کې د افغانستان د سوداګرۍ لپاره د ایران او پاکستان لارې وې، چې د تاریخ په اوږدو کې یې د افغانستان پر وړاندې د فشار د آلې په توګه کارولې دي چې په وروستیو کې یې افغان چارواکي دې ته اړ کړل چې بدیلې لارې پیدا کړي.

ښاغلی نیازی زیاتوي، له بل اړخه د منځنۍ آسیا هېوادونه د طبیعي زیرمو په درلودلو سره په سېمه کې ټولو هېوادونو ته ارزښت لري، په ځانګړې ډول افغانستان ته، ځکه چې دا یې ګاونډي دي او له بل لوري افغانستان هم د دې هېوادونو د سوداګرۍ او انرژۍ د انتقال لپاره ډېر اهمیت لري.

د سېمه‌ییزو چارو د دې شنونکي په وینا: دا چې په تېرو پنځلسو کلونو کې د منځنۍ او سویلي آسیا هېوادونو تر منځ د سوداګرۍ او انرژۍ د انتقال کوم ټرونونه لاسلیک شوي او د افغانستان له لارې تېریږي (تاپي، کاسا او نورې پروژې) د دې هېوادونو لپاره هم د اهمیت وړ دي.

د چارو دا شنونکی په سیاسي لحاظ هم د منځني آسیا هېوادونو د ویرې خبره هم مطرح کوي چې په وینا یې د دې هېوادونو په استازیتوب روسیې غږ پورته کړی چې د اسلامي دولت یا داعش او نورو ډلو له نفوذ څخه ویره شتون لري چې په همدې موخه افغان چارواکي هڅه کوي د دوي دا ډول اندیښنې رفع کړي.

د کابل پوهنتون د حقوق او سیاسي علومو د پوهنځي استاد جعفر کوهستاني هم وایي: دا چې افغانستان د منځنۍ آسیا او ختیځ آسیا تر منځ د پول حیثیت لري نو ټول ځمکنۍ انتقالات باید د افغانستان له لارې ترسره شي.

همدارنګه د ښاغلي کوهستاني په وینا دا چې په تېر کې د افغانستان تر ټولو ډېرې اقتصادي اړیکې له پاکستان سره وې، خو د هغه هېواد دوامداره لاسوهنې او له اقتصادي او سیاسي اړخه افغانستان ته ارزښت نه ورکول د دې لامل شول چې افغان حکومتونه له دې حالت څخه را ووځي او له منځنۍ آسیا هېوادونو سره اړیکې ډېرې کړي.

د حقوقو دا استاد امریکا هم پرې ګڼي او باور لري چې نړیواله ټولنه او امریکا هم په دې کې رول

لري، څکه تر هغه وخته چې د امریکا سیاست په افغانستان کې ناکام نه ؤ نو پاکستان یو مخکښ هېواد ؤ خو اوس د نړیوالو فشارونو په پایله کې د امریکا سیاست هم بدلون موندلی او افغان حکومت ته یې دا جرائت ورکړ چې پاکستان ته د یو ګواښ په توګه خپلې اړیکې له منځنۍ آسیا سره زیاتې کړي.

**ګټې لاسته راوړل که د ختیځ او لوديځ د ستونزو مرکز جوړیدل!**

له منځنۍ آسیا سره که د افغانستان اړیکو ته له اقتصادي اړخه وکتل شي د سوداګرۍ او انرژۍ د انتقال لپاره د سویلي آسیا هېوادونو سره د ترلو لپاره د وصل نقطه ده، خو له بلې خوا د منځنۍ آسیا دا هېوادونه له روسیې سره نژدې اړیکې او ګټې لري چې روسیه بیا په افغانستان کې له امریکا او ناټو سره ستونزې لري په دغسې وضعیت کې به آیا افغانستان لا ډېرو کړکیچونو او ستونزو سره مخ نشي؟

د کابل پوهنتون د حقوق او سیاسي علومو د پوهنځي استاد جعفر کوهستاني وایي: د افغانستان جګړه نیابتي جګړه ده او د هېواد په شمالي پولو کې د طالبانو او داعش شتون د دې ښکارندویي کوي چې د ختیځ او لوديځ د ګټو یو تقابل شتون لري.

خو ښاغلی کوهستاني په دې اند دی چې په اوږدمهال کې لوديځ په ځانګړې ډول امریکا نشي کولای په افغانستان کې پاتې شي، ځکه اوس د امریکا رئیس جمهور پوښتنه کوي چې ۱۷ کاله په افغانستان کې وخت تېرول د څه لپاره نو که یو واقعیت لیدونکی حکومت را مخته شي دا پوښتنه لویږي.

د حقوقو دا استاد په دې نظر دی چې که فعاله دیپلوماسي او ښې لارې په افغانستان کې وکارول شي دواړه اړخونو (امریکا او روسیې) ته قناعت ورکول کېدای شي چې افغانستان له جیوپولیټیک اړخه له سېمې سره خو د اړیکو او سیاست له مخې له نړۍ سره تړلی دی.

نومورې استاد ټېنګار کوي چې که مور باور ولرو چې د سېمې له هېوادونو سره اړیکې زیاتې نه کړو تر څو امریکا خفه نشي دا د افغانستان لپاره ښه نه ده باید پریښودل شي چې له منځنۍ آسیا هېوادونو سره هم دیپلوماتیکې اړیکې زیاتې شي او هم له روسیې سره تر څو د امریکا د تمې او د روسانو تعرض ګړې سترګې ړندې شي.

د کابل پوهنتون د حقوقو دا استاد په سیاستمدارانو هم نیوکه کوي او وایي: ځینې خلک چې ځان سیاستمدار هم ګڼي او یوازې شخصي ګټې په نظر کې لري د مداخله ګرو هېوادونو د لاس وسیلې ګرځي او په هېواد کې وضعیت ګډوډوي.

د علومو اکاډمۍ د سېمه‌ییزو څېړنو مرکز مشر رفیع الله نیازی بیا وایي: سره له دې چې د منځنۍ آسیا پر هېوادونو باندې روسیه خپل اغېز لري خو دا له ۱۹۹۱ کال وړاندې اغېز نه دی چې په دې سېمه کې روسې لومړی خبره کوله، دا هېوادونه خپل مجبوریتونه لري او غواړي چې د روسانو له احتیاج څخه ځان خلاص کړي، بدیلې ټرانزیټي لارې پیدا کړي او یا لږ تر لږه په روسیه د دوي تکیه کمه شي.

د سېمه‌ییزو چارو دا شنونکی باور لري چې په افغانستان کې د امریکا شتون کېدای شي په هغه ډول چې روسانو ته د اندیښنې وړ دی، د منځنۍ آسیا هېوادونو ته د اندیښنې وړ نه وي، ځکه دا هېوادونه د پله حیثیت لري او دا هېوادونه هڅه کوي پرمختګ وکړي.

د نومورې په وینا دا په دې معنا نشي کېدلای چې د امریکا شتون د افغانستان او د منځنۍ آسیا هېوادونو د پرمختګ مخه ونیسي؛ ځکه په ډېرو ځایونو کې رقابتونه او سیاسي سیالۍ روانې وي، خو په اقتصادي، کلتوري، ټولنیزو او نورو برخو کې کار کېږي.

د سېمه‌ییزو څېړنو مرکز مشر پر افغان حکومت هم غږ کوي چې د سېمه‌ییزو پرمختګ لپاره خپله کورنۍ دنده ترسره کړي او وروسته له هغه امریکا او نورو هېوادونو ته ویل کېدای شي چې په سېمه کې تاسو خپل ګټې پالی نو زمور ګټې هم باید همغږې شي او یا زمونږ د ګټو پر وړاندې خنډ ونه ګرځئ.

**له سېمه‌ییزو اړیکو سمه ګټه اخیستنه!**

د هېواد وضعیت ته په کتو سره دا چې نظام کمزوری دی، داخلي ستونزې شتون لري، نا امني له بلې خوا لوی ګواښ دی، افغانستان تر کومه کولای شي د منځنۍ آسیا له هېوادونو سره د اړیکو له پراختیا او زیاتیدو سمه ګټه واخلي او فعاله دیپلوماسي ولري تر څو د نورو د ګټو ښکار نه شي؟

د کابل پوهنتون د حقوق او سیاسي علومو د پوهنځي استاد جعفر کوهستاني وایي: د افغانستان راتلونکې دیپلوماسي د پوهې د کچې، مهارتونو او د دیپلوماسۍ لپاره تاکتیکونو او ستراتیژیو پورې اړه لري.

ښاغلی کوهستاني باور لري چې که د هېواد مشران ځانونه د افغانانو استازي، او د افغانستان د خلکو د حاکمیت تمثل کوونکي وګڼي لارې پیدا کېږي؛ د ښاغلي کوهستاني په وینا د انګریزانو د استعمار په اوج کې د دیپلوماسۍ په برخه کې مور سید نورمحمد شاه درلود چې انګریزانو اعتراف وکړ چې د یو شرقي هېواد پر وړاندې یې ماته خوړلې ده او د سید نورمحمد شاه خبره ځکه مهمه وه چې هغه د افغانستان لپاره او د افغاني فکر کولو پر بنسټ عمل کولو نو اوس هم که د هېواد رهبري افغانستان او افغانانو ته فکر او کار وکړي دا وړتیا پیدا کولای شي.

د حقوقي چارو دا کارپوه زیاتوي، اوس مهال زمونږ ډېر سیاستمداران پر نورو د سیاسي اتکاء پر بنسټ عمل کوي نه د پیوستون او ملي حاکمیت ملي پر بنسټ.

له بل لوري د علومو اکاډمۍ د سېمه‌ییزو څېړنو مرکز مشر رفیع الله نیازی ټېنګار کوي، دا چې په هېواد کې کورنۍ ستونزې شتون لري او په دې برخه کې مور خپلې کورنۍ دندې هم نه دي تر سره کړې، نو افغان چارواکي باید دې ته ډېر پام وکړي چې د سېمه ایېز پرمختګ لپاره په کور دننه اړوند کارونه ترسره کړي.

ښاغلی نیازی زیاتوي، په داسې حال کې چې تر اوسه پورې د منځنۍ آسیا هېوادونو سره د لویو پروژو او اړیکو د پراختیا په پایله کې ځینو سېمو ته بریښنا راغلې، ځینې سوداګریزې اړیکې پیل شوې چې د هغې پر بنسټ د غلو دانو له کمښت سره نه مخ کېږو او د ټرانزیټ په برخه کې د دوه نورو ګاونډیو (پاکستان او ایران) هېوادونو له خوا د واریدیدونکو فشارونو د کمښت لپاره په سېمه ایېزه کچه ډېر کار شوی.

د سېمه‌ییزو چارو دا شنونکی باور لري چې د ستونزو سره یو ځای چانسونه هم شتون لري خو دا چې په افغانستان کې د پرمختیا پر وړاندې خنډونه تر کومه لرې کېدای شي، وخت به معلوم کړي چې مور تر کومه کولای شو په دې برخه کې بریالیتوب لاسته راوړو.

# از نگرانی‌ها تا احتمال اقدام نظامی روسیه در افغانستان

مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی

ضمیر کابلوف نمایندۀ خاص رئیس جمهور روسیه برای افغانستان، اخیرا از احتمال اقدام نظامی روسیه در برابر گروه «دولت اسلامی» در افغانستان سخن زده است. به گفتۀ او، اگر دولت افغانستان و امریکا در مبارزه با این گروه در افغانستان ناکام شوند، مسکو به گزینۀ نظامی متوسل خواهد شد.

حکومت افغانستان در واکنش به اظهارات این مقام روسی می‌گوید: «کشورهای منطقه باید مانند افغانستان در برابر تروریزم، مسئولانه عمل کنند.» و هشدار می‌دهد که داشتن هر نوع تماس با گروه‌های «تروریستی» از سوی هر کشوری، می‌تواند وضعیت را در منطقه خطرناک کند.

ظهور گروه «دولت اسلامی» در افغانستان باعث ایجاد بی‌باوری‌ها در روابط کابل-مسکو گردید و در طول دو سال گذشته مقام‌های روسی مکررا از حضور جنگجویان این گروه در افغانستان ابراز نگرانی می‌کنند. نگرانی‌ها و بی‌باوری‌های روسیه زمانی بیشتر گردید که به قول برخی مقام‌های محلی حکومت و اعضای پارلمان، طیاره‌های ناشناس در مناطق تحت نفوذ این گروه نشست می‌کنند.

در این تحلیل بر روابط کابل-مسکو، نگرانی‌های مسکو از حضور جنگجویان داعش در افغانستان و رویارویی مسکو و واشنگتن در این کشور، پرداخته شده است.

**روابط کابل ـ مسکو**

روابط افغانستان و روسیه پس از سال ۲۰۰۱م تا دورۀ دوم ریاست جمهوری حامد کرزی در وضعیت نسبتا خوبی قرار داشت، ولی در دورۀ دوم حامد کرزی به دلیل مخالفت‌های او با واشنگتن، این روابط بیش از پیش گرم‌تر گردید و رفت‌وآمدهای مقام‌های افغان به روسیه بیشتر شد.

با روی‌کار آمدن حکومت وحدت ملی، کابل در تلاش اجماع منطقوی در امر مبارزه با افراط‌گرایی و «تروریزم» برآمد. برای دستیابی به همین هدف، رئیس جمهور غنی و حنیف اتمر مشاور امنیت ملی وی، سفرهایی به روسیه نیز داشتند و روس‌ها نیز دست همکاری را به افغانستان دراز کرد.

حکومت افغانستان گمان می‌کرد که ناامنی‌ها در شمال کشور و آغاز فعالیت گروه «دولت اسلامی» در افغانستان می‌تواند موجب ترغیب روس‌ها به کمک‌های نظامی بیشتر با افغانستان گردد، اما بالعکس مسکو بر مبارزۀ حکومت افغانستان با جنگجویان داعش در افغانستان مشکوک شد و به دلیل نزدیکی روابط با طالبان، روابط کابل-مسکو روبه خرابی نهاد.

ظهور مرموز و گسترش سریع فعالیت‌های گروه داعش در افغانستان، به خصوص متهم شدن شورای امنیت ملی از سوی برخی اعضای پارلمان افغانستان به حمایت گروه داعش، مسکو را بر مبارزۀ حکومت افغانستان علیه این گروه مشکوک ساخت. به همین دلیل، مسکو بجای گسترش و تقویت روابط دولت با دولت، به رابطه با طالبان روی آورد.

این بی‌باوری‌ها بالآخره به جایی رسید که نشست سه‌جانبۀ روسیه-چین-پاکستان بدون حضور نماینده‌ای از حکومت افغانستان، روی قضیۀ افغانستان در مسکو برگزار گردد که تاثیر منفی بیشتر روی روابط دو کشور گذاشت و حکومت افغانستان نیز واکنش جدی به چنین نشست‌هایی نشان داد.

**روابط روسیه با طالبان**

مقام‌های روسی رسما تایید کرده‌اند که طالبان را به عنوان یک گروه مسلح سیاسی واقعی می‌شناسند و با این گروه تماس دارند. طالبان نیز در وب‌سایت‌های رسمی شان از این روابط سخن زده‌اند و آنرا به رسمیت شناختن این گروه از سوی کشورهای منطقه عنوان کرده‌اند. به همین دلیل، این روابط محض شایعاتی که به رسانه‌ها درز کرده باشند، نیست و اکنون همه جهت‌ها آنرا تایید می کنند .

از آنجاییکه روسیه گروه «دولت اسلامی» را تهدید جدی برای خود تلقی می‌کند و طالبان نیز عملا با این گروه در جنگ مسلحانه قرار دارند، روس‌ها ترجیح داده است تا از گزینۀ روابط با طالبان با قضیۀ گروه داعش در افغانستان برخورد کند. اینکه چرا روسیه به جای حکومت افغانستان به گزینۀ طالبان

روی آورده است، دو احتمال وجود دارد. نخست اینکه روسیه فکر می‌کند، حکومت افغانستان توان مقابله با گروه داعش را ندارد؛ دوم اینکه خود حکومت افغانستان و خارجی‌های مستقر در این کشور را به همکاری و تقویت این گروه متهم می‌کند.

ضمیر کابلوف نیز در اظهارات اخیرش مثال آورده است که نیروهای خارجی چندی پیش با حمله بر گروه طالبان در ولایت ننگرهار، اعضای گروه داعش را از محاصرهٔ این گروه نجات دادند. ولی ریاست جمهوری در این مورد می‌گوید، کشورهای که فکر می‌کنند طالبان مخالف داعش اند، سخت اشتباه می‌کنند.

هرچند روسیه بر روابط خویش با گروه طالبان اعتراف می‌کند، ولی این روابط را به نیاز جلوگیری از خطر گروه «دولت اسلامی» و تلاش‌های تامین امنیت اتباع و دیپلومات‌های خود در افغانستان، توجیه می‌کنند. اما در یک دیدگاه دیگر، عامل اصلی این روابط رویارویی روسیه با امریکاست.

**رویارویی واشنگتن و مسکو در افغانستان**

از حملات یازدهم سپتامبر و حملهٔ نظامی امریکا بر افغانستان، مرحلهٔ جدیدی از سیاست روسیه در افغانستان آغاز شد. هرچند مسکو از اقدام ایالات متحدهٔ امریکا برای سرنگونی رژیم طالبان و تشکیل نیروهای آیساف در افغانستان حمایت کرد، اما در چند سال اخیر در کنار سایر مسائل منطقوی و جهانی، ایجاد پایگاه‌های دایمی نظامی امریکا و سپس ظهور گروه داعش در افغانستان، روی سیاست مسکو تاثیرگذار ثابت شد و سیاست بی‌طرفی نسبی در قضیهٔ افغانستان را کنار گذاشت.

ظهور و گسترش نفوذ گروه داعش در افغانستان، وضعیت جیوپولیتیک منطقه را تغییر داد و پس از برگزاری نشست سه‌جانبه در مورد امنیت افغانستان با مشارکت چین، پاکستان و روسیه، این تغییر جنبهٔ عملی را به خود گرفت.

مقام‌های روسی، به خصوص نمایندهٔ خاص روسیه در افغانستان، مکررا سیاست‌های امریکا در امر مبارزه با «تروریزم» و در مجموع سیاست‌های آن کشور در منطقه را، مورد انتقاد قرار می‌دهند.

بالعکس ناتو و امریکا، روسیه را به حمایت از طالبان متهم می‌کند و مقام‌های افغان و امریکایی نگران روابط روسیه و طالبان اند. به گفتهٔ جنرال جان نیکلسون، قوماندان نیروهای امریکایی و ناتو در افغانستان، روسیه نیز به جمع ایران و پاکستان پیوسته و مانند آنها به اعمال «نفوذ زیانبار» در افغانستان می‌پردازد. به گفتهٔ او، مسکو در تلاش مشروعیت بخشیدن به طالبان است و داعش یک بهانه‌ای برای توجیه سیاست‌های روسیه شده است.

بیش از این اتهام‌ها و نگرانی‌ها، نمایندهٔ خاص روسیه برای افغانستان در اظهارات اخیرش گفت که اگر حکومت افغانستان و خارجی‌ها در برابر فعالیت‌های گروه داعش در افغانستان ناکام شوند، مسکو در این مورد بی‌تفاوت نمی‌ماند. او در چنین وضعیتی از احتمال اقدام نظامی علیه این گروه در افغانستان سخن زد، چیزی که تصویر مبدل شدن افغانستان به میدان جنگ امریکا و روسیه را با خود دارد.

روسیه از گزینهٔ «تقویت روابط با طالبان» در کنار جلوگیری از نفوذ گروه «دولت اسلامی» در افغانستان، به عنوان آلهٔ فشار در قضایای بین‌المللی بر امریکا نیز کار می‌گیرد و با در نظرداشت هشدار اخیر روسیه در مورد اقدام نظامی در افغانستان، چنان می‌نماید که پس از اوکراین و سوریه، رویارویی دیگر امریکا و روسیه در افغانستان است، چیزی که قضیهٔ افغانستان را بیش از پیش پچیده‌تر و افغانستان را یک‌بار دیگر به میدان نوع دیگری از جنگ‌های نیابتی مبدل خواهد ساخت.

هرچند در صورت گسترش نفوذ و فعالیت‌های گروه «دولت اسلامی» در افغانستان، احتمال آن وجود دارد که روسیه مانند سوریه در افغانستان نیز مخفیگاه‌های جنگجویان این گروه را هدف قرار دهند؛ ولی در حال حاضر چنان می‌نماید که هدف چنین اظهارات فشارهای بیشتر بر حکومت افغانستان و امریکاست و در شرایط کنونی به خصوص در موجودیت امریکا و ناتو در افغانستان، اقدام و مداخلهٔ نظامی روسیه در افغانستان، بعید به نظر می‌رسد.

# بگزار مهاجم حرفش را آزادنه بگوید اما تو ساکت باش!

**دکتور فضل الهادی وزین**

هر باری که یکی از اسلام ستیزان پروژه‌ای علیه اسلام و ثوابت آن زبان می گشاید و یا بر عقاید مسلمانان و مسلمات اسلام می‌تازد و در طرف مقابل، کسی بنا بر وجیبه شرعی و برای روشن ساختن حق و حقیقت از عقاید و ثوابت اسلام دفاع می‌کند و به رد شبهات پروژه‌ای می پردازد، یک عده افراد که اصلا از نظر فکر طرفدار ترویج این شبهات اند، مگر بنابر دلایل و منافعی توان و جرئت ابراز موقف خویش را بطور صریح و واضح ندارند، با ادای اکت ناصح و دلسوز(!) به سرزنش و ملامت کردن کسانی می پردازند که از اسلام در برابر شبهات مرجفین پروژه‌ای دفاع می‌کنند و با برهان و دلیل بر بیت عنکبوت شبهه پراگنان می کوبند.

بد نیتی این به اصطلاح ناصحان دلسوز- که در حقیقت با شبهه پراگنان در یک خط قرار دارند- ازین هویدا می‌شود، که آنان حرف و جمله‌ای در رد یا نکوهش تهاجم اشخاص و نهادهای استخدام شده در پروژه ترویج «اسلام امریکایی موسسه راند» نمی‌گویند و لبه تیز خنجر مسموم قلم و نیش زهردار زبان شان همواره متوجه مدافعان عقاید و هویت مسلمانان و پاسداران ارزش‌های اسلامی است. این قماش افراد در حقیقت مردم را به سکوت و تسلیمی در برابر پروژه‌های تهاجم فکری و جنگ روانی علیه اسلام و مسلمانان دعوت می‌کنند و در لباس دوست دلسوز کار دشمن خوانخوار را انجام می‌دهند.

این افراد می‌خواهند بگویند:

«در برابر تهاجم فکری و جنگ روانی علیه اسلام و عقاید و ارزش‌های هویتی مسلمانان سکوت اختیار کنید، تسامح بخرج بدهید، بگزارید مهاجمان افکار شان را آزادنه بگویند، اما شما صبر و سکوت پیشه کنید..» !

به تعبیر دیگر این قماش افراد تهاجم علیه اسلام را حلال و جایز می‌دانند، اما رد شبهات و دفاع از اسلام را حرام و ناپسند!

ازین گونه «مکر صیادی» و اکت شیادی بر حذر باید بود.

البته ناگفته پیداست که حساب نصیحت و نقد خیرخواهانه از همسویی و همدلی با کارمندان نشر و ترویج «اسلام پروژه‌ای موسسه راند» جدا است.

د تاریخ له پانو

# ښځه او حقوق يې

قاضي محمد حسن اسلامي

حقايق: حقيقت دا دی چې د انساني تاريخ ځينې تتې او سپېرې دورې وې چې ښځو بېچاره ګانو پکې ډېر مشکلات ليدلي، ځوروړل شوي، وهل شوي، خرڅې شوي، په قمار کې بايلول شوي، د انسانيت له کتاره ويستل شوي، د شيطانانو او ځناورو په کتار کې درول شوي دي. هوا! دغه مظلوم مخلوق ته د يوه دردمن، با احساسه او عاطفې لرونکي انسان څومره زړه درد کړی او کوي يې.

دا مسکينانې د هر نظام تر فشار لاندې وي. په هره زمانه کې يې د نادودو ډانګ په سر خوړلی دی، د محرومیت اوږد تاريخ لري، د غمونو ستر داستان پرې تېر شوی، د ظلمونو هغه بدرنګې شپې، ورځې پرې راغلي چې يادول يې د سړي غوني زيږه کوي.

په داسې مصيبتونو اوښتي دي چې بشريت يې حيران کړی دی. تر ټولو ستر عار او پېغور دا ؤ چې له ښځې سره د هند په متمدن تاريخ کې داسې جلند شوی چې هغه يې بشر نه بلله په هغې يې ډول ډول ظلمونه کول.

اغريقيونو به ويل: دا يوه مسمومه ونه او نيالګی دی. دا ديو (شيطاني مخلوق) دی. د هرې بلې متاع په څېر دې و پلورل شي. هغه رومي تمدن چې خلک وربانده فخر کوي خو د ښځو په هکله يې ويل: ښځې روح نه لري او د عذاب ورکولو يو ډول يې دا ؤ چې ايشولي تېل به يې پرې تويول، په آسونو پسې به يې ترلې او آسونه به يې قمچينې کړل تر دې مړې به شوې، بدنونه به يې ټوټه ټوټه شول. هندوانو به دا هم ويل: چې مرګ دوزخ او اورونه، زهر، ماران او لړمان يو هم له ښځې بد او خطرناک نه دي يعنې ښځه تر دې واړو بده او خطرناکه ده او د دوی په نزد بايد د مېړه له مرګه وروسته ووژل شي ځکه اصلا د ژوند حق نه لري. دا ده هغه متمدنه نړۍ چې نن د ښځو د حقوقو دروغجنو نارو سورو يې غوبل جوړ کړی دی. فارسيانو خو د محرمو ښځو سره نکاح مباح ګرځولې وه. د خپلې خور، مور، ترور او نورو سره يې له استثناء پرته نکاح جايزه ګڼله او د فارس قانون نارينه وو ته دا حق ورکړی ؤ چې کولای شي خپله ښځه چې په څه ډول غواړي ووژني. يهوديانو خو به د ښځو په هکله ويل: دا يو لعنت دی ځکه د انسان د بې لاري توب او ګمراهۍ ستر لامل همدوی دي. د حيض په حالت خو يې دومره نجسې او پليتې بللې چې په يوه کوټه کې به يې له ځان سره نه ځملوله او ډوډۍ يې يو ځای ورسره نه خوړله. پلار ته يې د خرڅولو اجازه وه. د نصرانيانو نظر د ښځو په هکله دا ؤ چې: فرانسويانو په ۵۸۶ ميلادي کال کې د ښځو په هکله د څېړنې د يوه کانفرانس تابيا و نيوله چې آيا ښځه انسان ده که غير انسان؟ څه شی و شمېرل شي؟ آيا اروا يې شته که بې روحه ده؟ که روح ولري هغه به حيواني روح وي که انساني؟ که انساني روح و بلل شي نو آيا د نارينوو روح ته به ورته وي که نه له هغو ټيټه او ښکته به وي؟ له زياتو بحثونو او څېړنو وروسته ايله په ايله دې پرېکړې ته و رسېدل چې ښځه انسان ده خو د نارينه وو د خدمت او چوپړ لپاره پيدا شوې ده. په پای کې د انګلستان پارلمان د ولسي جرګې د اتم پاچا هنري په زمانه کې دا فيصله صادره کړه چې په ښځو بنديز و لګول شي چې د (عهد جديد) تحريف شوی انجيل به نه لولي ځکه هغه ورته نجسه او پليته وايي. د عربو په کلتور کې خو ښځې ته د ژوند حق کم ورکول کېده تردې پورې چې نجونې به يې ژوندۍ خښولې ځا او کندې ته به يې غورځولې او خاوړې به يې وربانده انبار کړې.

هغسې ظلم هلته روان ؤ چې د مړي زړه هم ويلې کوي.

د ښځو رښتينې آزادي: الله تعالی چې په نړۍ کې د نورو ګڼو نا خوالو د بدرنګه شکل د بلولو اراده و فرمايله نو د ښځو د مظلوم قشر په هکله يې هم د بشريت ستر لارښود ته د قرآن کريم په رسا ژبه داسې فرمان صادر کړ: [هُنَّ لِبَاسٌ لَكُمْ وَأَنْتُمْ لِبَاسٌ لَهُنَّ] (البقرة: ۱۸۷)

ګڼ آياتونه او احاديث په دې هکله شته چې د ښځو په هکله يې انسانانو ته د خير توصيه وکوله هغوی يې په انساني اکرام و نازولې. هغې ته يې د مور، خور، ترور، مېرمنې، عمه، خوښې او نور درانه لقبونه ورکړل او هغوی يې په ميراث کې شريکې کړلې رسول صلی الله عليه و سلم وفرمايل: [النساء شقايق الرجال] «خَيْرُكُمْ خَيْرُكُمْ لأَهْلِهِ وَأَنَا خَيْرُكُمْ لأَهْلِي».

د ښځو د حقوقو يې له هغه وخته د نارينه وو سره يو ډول سپارښتنه وکوله چې لا د مو ر په کېډه کې وې.

**پاتې په (۱۵) مخ کې**

# پروژه‌ی یهودی مسیحی

ترجمه: عبدالخالق احسان

کیان صهیونیزم اشغاگر بر سرزمین فلسطین، پروژه‌ی غربی است که عقیده دینی - اسطوره‌ی - لاهوتی پروتستانی غربی را تحقق می‌بخشد، این عقیده عبارت از بازگشت مسیح است تا هزار سال بر جهان حکم راند و زندگی را به نیکبختی برساند، البته این حکومت مسیح مرهون اقامت یهود در فلسطین و برپایی دولت صهیونیستی و تخریب مسجد اقصی و جایگزینی هیکل سوم یهود می‌باشد؛ چون به باور آنان یهود ملت برگزیده الله متعال است!!!.

این عقیده لاهوتی با مصالح امپریالیستی غربی در برپایی نظامی در قلب سرزمین عربی گره خورده تا وحدت امت اسلامی و کشورهای عربی را بگسلد؛ لذا کیان صهیونیستی به مثابه پایگاه غربی - تمدنی و نظامی - است تا از نهضت امت عربی جلوگیری کرده و بازدارنده آزادی و پیشرفت آن باشد.

بعد از تبلور ( عقیده دینی امپریالیستی)، این مسئله بین یهودی های نشر و پخش شده و به منظور اجرایی کردن آن، بین مسیحیت صهیونیست غربی حاکم بر مؤسسات امپریالیستی غربی و حرکت نوتأسیس صهیونیست فعالیت های مشترکی آغاز گردید. اینک به حوادث تاریخی اشاره می‌کنیم که دلایل قاطع و صریحی بر صدق گفتار ماست:

۱- به گونه مثال در امریکا کتاب های که بین سال های ۱۸۰۰م تا ۱۸۷۵م در مورد مسیحیت صهیونیست نوشته و نشر گردیده، حدود ۲۰۰۰ کتاب می باشد.

۲- در سال ۱۸٦٦م پروتستان امریکایی اولین گروپ های شهرک نشینی یهودی در فلسطین را فرستادند که کاهن ( آدم) به همراه ۱۵۰ کاهن امریکایی آنان را همراهی می‌نمودند، در سال بعدی ۱۸٦۷م با مشارکت ۷۰ شخصیت دینی مسیحی صهیونیستی امریکایی اولین شهرک نشین ها در فلسطین به فعالیت آغاز نمودند.

۳- در سال ۱۹۱۸م ولیسون رئیس جمهور امریکا پایبندی امریکا به اجرای وعده بالفور را اعلان نمود، و سپس به صورت رسمی در سال ۱۹۲۲ آن را اجرایی نموده و مجلس نمایندگان امریکا این مسئله را تصویب نمود که ضرور است برای یهود فرصتی داده شود تا زندگی و فرهنگ یهودیت را دوباره در سر زمین قدیمی یهود برپا نماید.

٤- در سال ۱۹٤۸م امریکا اولین دولتی بود که اسرائیل را به رسمیت شناخت و موقع جنگ بین عرب ها و صهیونیست ها که در همان سال به وقوع پیوست، امریکا و غرب از اسرائیل حمایت کرده و به نیروهای صهیونیستی این امکان را فراهم نمودند تا ۵۳۸ قریه فلسطینی را تخریب نموده و مردم را فراری داده و بر زمین های شان تسلط یافت، هم چنان بر دارایی و املاک اوقاف و امیر وقت فلسطین سیطره پیدا کرد تا استعمار شهرک نشینی صهیونیستی بر سرزمین فلسطین اقامه گردد.

۵- در سال ۱۹٦۷م امریکا از اسرائیل حمایت و پشتیبانی کرد تا بر تمام فلسطین، سیناء و جولان تسلط یابد، هم چنان در سال ۱۹۸۲م اسرائیل را تقویت و حمایت کرد تا بر جنوب لبنان سیطره یافت.

٦- در ۲٤ اکتوبر ۱۹۹۵م کانگرس امریکا انتخاب قدس به حیث پایتخت ابدی اسرائیل را تصویب نمود؛ چون قدس را سرزمین روحی یهود می پندارند، این تصمیم در سبتامبر سال ۲۰۰۲م تجدید گردید و بوش پسر رئیس جمهور وقت آن را توشیح نمود. و امریکا به بنای سفارت خود در قدس بر سرزمین به دست آورده اش آغازید، گرچه در اصل آن زمین از اوقات خیریه اسلامی می‌باشد.

۷- در ۱٤ اپریل سال ۲۰۰٤م بوش رساله ضمانت ها را به شارون تسلیم نمود که آن رساله و پیام بقای شهرک نشینان یهودی در کناره غربی را تضمین می نمود، این ضمانت ها ادامه اجرایی کردن وعده بالفور است و نشان می دهد که امریکا از اسرائیل به تمام معنی حمایت نموده و بقای آن را در سرزمین های غصب شده¬ی فلسطینی ضمانت می کند .

با بیان این حقایق که بخشی از روابط امریکا و اسرائیل محسوب می گردد، به این نتیجه می رسیم که قضیه‌ی فلسطین، مسئله‌ی عادی و فرعی و منطقه‌ی نیست؛ بلکه مسئله عقیده و ایمان است و دفاع از فلسطین و مسجد اقصی وجیبه ایمانی هر فرد مسلمان می‌باشد و باید نخبگان و رهبران کشورهای عربی و اسلامی این حقیقت را دریابند و برای حل مسئله فلسطین از امریکا انتظار و توقعی نداشته باشند.

habibi@eslahonline.net

# گلگشت‌های ادبی

## د زورورو دوستي

د ځنګله غوښې خوړونکي حیوانات په ګډه وړي شوي وو او حیران وو چې څه شی وخوري.
اېږې، لیوه، او ګیدړې مشوره وکړه چې راځئ له لوږې نه د خلاصون په موخه له زمري سره لاس یو کړو. درې واړه یو ځای زمري ته ورغلل، د دوستۍ وړاندیز یې ور ته وکړ، او هغه هم ور سره ومانه. څلور واړه په ګډه له ښکار پسې ووتل. یو ځنګلي غوایی یې ولید.،ګیدړې او لیوه په غوایي پسې منډه واخیسته، اېږې یې مخه ونیوله، او زمري غوایی و واژه.
د وېش وخت راورسېد. ګیدړې څلور برخې جوړې کړې. مګر کله چې لیوه، ګیدړې او اېږې غوښتل چې خپلو برخو ته ور نږدې شي، زمری وغړمبېد او ویې ویل: ښه ملګرو! دا اوله برخه خو زما ده، ځکه چې زه مشر یم. دویمه برخه ځکه زما ده چې ما غوایی وژلی. دریمه برخه هم زما ده، ځکه چې زما د خپلو بچیانو له پاره په کار ده. پاتې شوه څلورمه برخه، که د چا په کار وي، را مخکې دې شي، او له ما سره دې زور ووهي که په زور یې را نه واخیسته د هغه شوه!
لیوه، ایړه، او ګیدړ تیټ سرونه روان شول!

## بخوانید وعمل کنید

رسول الله صلی الله علیه وسلم می فرماید:

- به دنبال عیوب دیگران نباشید، و جاسوسی نکنید.
- به نام پدرانتان، سوگند نخورید.
- بین انبیاء (علیهم الصلاة والسلام)، کسی را بر دیگری ترجیح ندهید.
- مرا بر موسی (علیه السلام) ترجیح ندهید.
- فرشتگان وارد خانه‌ای که در آن سگ و تصاویر باشد، نمی‌شوند.
- به سکونت گاههای کسانی که به خویشتن ظلم کرده‌اند وارد نشوید، از بیم آن که مبادا، آن چه به آن‌ها رسیده (عذاب)، به شما برسد، مگر این که گریان باشید.
- بعد از من کافر نشوید، تا با جنگ و خون ریزی یکدیگر را نابود سازید.

## چه زمانی نباید چای بخورید؟

تمام انواع سبزی‌ها، میوه‌ها می‌تواند جایگزین چای شود، اما بسیاری از افراد بدلیل آرام بخش بودن چای آن را مصرف می‌کنند که این اثرآرامش بخش را میوه‌ها وسبزیجات ندارند.
کیمیاگر متخصص تغذیه میگوید: خوردن چای به شرط آنکه با مواد قندی و شیرینی جات مصرف نشود مشکلی ندارد، همچنین خانم‌های باردار از نیم ساعت قبل از صرف غذا و تا یک ساعت و نیم بعد از غذا از چایی استفاده نکنند، تا آهن غذا کم نشود.
کیمیاگر تصریح کرد: نوشیدن مکرر چای در طول روز بیش از ٦پیاله باعث تغییر رنگ و زردی دندان ها می‌شود.
وی در خصوص مواد جایگزین چای اظهار داشت: تمام انواع سبزی‌ها و میوه‌ها می‌تواند جایگزین چای شود، اما بسیاری از افراد بدلیل آرام بخش بودن چای آن را مصرف می‌کنند که این اثرآرامش بخش را میوه‌ها وسبزیجات ندارند.
مصرف کافئین را محدود نمایید و بیش از ۳۰۰ میلی گرم کافئین در روز مصرف ننمایید. محتوای کافئین در نوشیدنی‌های مختلف به نوع برگ‌ها (مثل برگ چای) و یا نوع دانه‌های مورد استفاده (مثلا نوع دانه های ککو، قهوه و ...) و نیز به نحوه ی آماده سازی نوشیدنی بستگی دارد.
یک پیاله قهوه (حدود ۲٤۰ سی سی قهوه) به طور میانگین حاوی ۱۵۰ میلی گرم کافئین است، در حالی‌که یک پیاله چای سیاه معمولا حاوی ۸۰ میلی گرم کافئین می‌باشد. یک پیاله نوشابه حاوی نوشابه‌های کافئین دار به طور متوسط دارای ۳۰ تا ٦۰ میلی گرم کافئین می‌باشد.

چلوونکی: عبدالرزاق حبیبي

# معلومات

## قلب‌ها را سالم سازید

اغلب ما گرچه ظاهراً خود را دیندار و نه مادی‌گرا می‌دانیم، اما خوب اگر نگاه کنیم مادّی‌گرایانه زندگی می‌کنیم. یعنی در عمل و متن زندگی، مادّی‌گرا هستیم و نه دیندار. آخر چطور می‌شود که بشنویم پیامبرمان گفته است خدا به پیکرهای‌شما، به چهره‌های شما، به اموال شما نمی‌نگرد، بلکه تنها به دل‌های شما نگاه می‌کند و آن‌وقت آنچه کمتر از همه محل تأمّل و توجه ما واقع می‌شود، پاکی دل باشد؟(حدیث: إِنَّ اللَّهَ لاَ يَنْظُرُ إِلَى صُوَرِكُمْ وَأَمْوَالِكُمْ وَلَكِنْ يَنْظُرُ إِلَى قُلُوبِكُم ْ/ به‌روایت مسلم)

در متن زندگی، دلنگرانِ آن اساسی‌ترین چیز نیستیم. آن کانونی‌ترین چیز که همان «قلب سلیم» است. قرآن می‌گوید در حیات اخروی، تنها و تنها «قلب سلیم» یعنی دلِ پاک و پیراسته، به حال آدمی سودمند خواهد بود و نه هیچ چیز دیگر.(يَوْمَ لا يَنْفَعُ مالٌ وَ لا بَنُونَ * إِلاَّ مَنْ أَتَى اللَّهَ بِقَلْبٍ سَلِيمٍ/ شعراء:۸۸ و ۸۹)

راستی احوال دل و نگرانی از زنگارها، کدورت‌ها، غفلت‌ها، آفات و بیماری‌هایی که عارض دل ما می‌شود چقدر اولویت زندگی ماست؟

## له ویده‌کېدلو مخکې دعاء

عن أبي عُمَارة البراءِ بن عازب (رضي الله عنهما)، قَالَ: قَالَ رسولُ الله (صلى الله عليه وسلم) : ((يَا فُلانُ ، إِذَا أَوَيْتَ إِلَى فراشِكَ ، **فَقُل: اللَّهُمَّ أَسْلَمتُ نَفْسي إِلَيْكَ ، وَوَجَّهتُ وَجْهي إِلَيْكَ ، وَفَوَّضتُ أَمْري إِلَيْكَ ، وَأَلجأْتُ ظَهري إِلَيْكَ رَغبَةً وَرَهبَةً إِلَيْكَ ، لا مَلْجَأَ وَلاَ مَنْجَا منْكَ إِلاَّ إِلَيْكَ ، آمَنْتُ بكتَابِكَ الَّذي أَنْزَلْتَ ؛ وَنَبِيِّكَ الَّذي أَرْسَلْتَ** . فَإِنَّكَ إِنْ مِتَّ مِنْ لَيلَتِكَ مِتَّ عَلَى الفِطْرَةِ ، وَإِنْ أَصْبَحْتَ أَصَبْتَ خَيراً )).

**د حدیث تخریج:**

دا حدیث امام بخاري په خپل صحیح کې د کتاب الدعوات، په (ما یقول إذا نام) باب کې نقل کړی دی.

**د حدیث ژباړه:**

ابو عماره براء د عازب ځوی (الله دې له دواړو څخه راضي شي) وایي چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «ای فلانیه! کله چې (د خوب لپاره) خپل د ملاستې ځای ته راغلې، نو ووایه: «ای الله! ما ځان تا ته تسلیم کړی دی، خپل مخ مې تا ته اړولی دی، خپل کار مې تا ته سپارلی دی، خپله شا مې ستا تابع کړې ده، ستا سره د مینې او ستا څخه د ویرې له امله، نشته دې له تا نه د پناه او خلاصي ځای پرته له تاڅخه، ما ستا لخوا په نازل شوي کتاب او ستا په رالیږل شوي پیغمبر ایمان راوړی دی» که په دې شپه مړ شوې نو په دین به مړ شي او که ژوندی پاتې شوې نو په خیر به سهار کړې».

## نبوي لارښوونې

* رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: إِنَّمَا شِفَاءُ الْعِيِّ السُّؤَالُ. رواه ابوداؤد (مشكوة)

ژباړه: یقیناً د ناپوهۍ علاج (له علماوو څخه) پوښتنه کول دي.

* رسول الله صلى الله عليه وسلم خپلو صحابه کرامو ته وفرمایل: په تاسو کې دې یو هم ما ته د بل چا خبره نه را رسوي، ځکه زه دا خوښ لرم چې تاسې ته در ووځم او زما په زړه کې هیڅا ته بد نه وي. رواه ابوداؤد

* رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: وَاتَّقُوا الشُّحَّ؛ فَإِنَّ الشُّحَّ أَهْلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ، حَمَلَهُمْ عَلَى أَنْ سَفَكُوا دِمَاءَهُمْ وَاسْتَحَلُّوا مَحَارِمَهُمْ. (رواه مسلم)

ژباړه: او له بخل څخه ځان وساتئ، ځکه بخل هغه خلک هلاک کړل چې له تاسې وړاندې وو، (بخل) دې ته اړ کړل چې یو د بل وینې تویې کړي او حرام حلال وګڼي.

# اخوان المسلمین و ویژگی‌های دعوت آن

## ویژگی‌های دعوت اخوان المسلمین

(قسمت چهارم)

عزیز احمد حنیف

اخوان المسلمین با درک عمیق از فلسفه، حکمت و روش دعوت اسلامی برای اصلاح و تغییر اجتماعی به هدف رسیدن به ارزش‌های انسانی مطابق خواست‌های فطری انسان، و با شناخت کامل از تنش‌های جهانی و منطقوی میان قدرت‌ها و هم‌چنان رعایت مقدسات دینی و مذهبی سایر ادیان و مذاهب، در داخل و بیرون قلمرو سیاسی اسلام، در رویکرد جهانی‌اش دارای یک‌سلسله اصول و قواعد ویژه‌یی است که از میان تمام حرکت‌های اسلامی معاصر، آن را متمایز می‌سازد.

**الف: انعطاف پذیری در بُعد سیاسی**

